هر نوع از سطوح مدیریت بــه فیصدی هــای لازم و ضروری در سطح مربوطه به نوعیت مهارت ضرورت دارد مانند مدیــران عالی به مقدار ٦۰ فیصد بــه مهارت ادراکی و سیاسی و ۳۰ فیصد مهارت ارتباطــی و ۱۰ فیصد مهارت فنــی ضروت دارنــد و بایــد داشته باشند.

۲ – مهارت های ارتباطی

عبارت از چگونگی برقراری ارتباط بــا مافوق، همنوعان، زیر دستان و سایر مراجعین را شــامل میشــود کــه اکثراً مدیران میانی ســهم بیشتری دارند و هماننــد چهار راهی که مکلف اند تــا با مدیران عالی و عملیاتی ارتباط سالم داشته باشند.

۳ – مهارت های فنی

عبــارت از مهــارت هــای تخصصــی تکتیکی و مهارت هــای عملیاتــی را گویند که عملاً در مرحلــه تطبیق پلان و ســتراتیژی میباشــد عموماً بــا مراجعین بیشــتر ارتباط میداشته باشند.



مهارت های جدید یک رهبر مدیر:

۱ – تشــخیص (شناســایی) وضعیت

۲- مهارت ارتباط

۳ – مهارت تصمیم گیری

٤ – مهارت مدیریت زمان

نظریــه های نویــن راجع به مهارت های رهــبر نیز قرار ذیل نگاشته شده است.

۱ – حضــور اجرایــی: ایــن نشــان میدهــد کــه رهبران چگونــه اعتماد مــی کنند و مورد اعتماد قــرار می گیرند چگونــه ارتبــاط برقرار می کننــد چگونه تحت فشــار پیشرفت می نمایند.

۲ – انعطــاف پذیری: رهبران انعطــاف پذیــر مــی توانند اضطــراب های شــخصی و ســازمانی را به طور موثری مدیریــت کننــد و آرامش و اعتماد به نفس را به مجموعه تحــت رهــبری خــود بــاز گردانند.

۳ – مدیریت فرهنگ:رهبران باید مهــارت ایجاد فرهنگ، حفظ و رشــد آن را داشــته باشند.

٤ – هدایت ابهامات:رهبران باید الهام بخــش گروه های خــود در روبــرو شــدن با افزایش پیچیده گی باشــند و در هدایــت ابهامات چابک باشند و رقابتی بمانند.

٥ – ترکیبــی از مهــارت ها: رهبران هر قــدر به کارهای بیشــتری بپردازنــد بهتر می توانند این دنیای همیشــه در حال تکامل کســب و کار را هدایت کنند.

٦ – مدیریــت چندگانــه: رهــبران بایــد در کمک به کارمندان برای بررسی کلیشه هــای رفتاری نســلی در باره همکاران شان ماهر باشند.

۷ – همکاری: بخاطر افزایش ســطح ارتباطات رهبران باید بداننــد چه موقــع همکاری کننــد و چگونه مهارت های مورد نیاز را نشان دهند.

۸ – هــوش هیجانــی: هوش هیجانــی عبــارت اســت از توانایی سازگاری با هیجانات خــود و دیگــران، هــوش هیجانــی توانایــی تنظیــم هیجانــات خــود و درک دیگــران را به مــا میدهد در نتیجــه بهترین وجه یکدیگر را می یابیــم و بهترین نتیجه ممکــن هم بــرای ســازمان بدست می آید.

۹ – حضــور در شــبکه های اجتماعی: یکی از مهم ترین مهارت های رهــبری بوده تا بتوانیــم در محــل کار، خانه و بــرای دیگرانی که به آنچه ما می گوییم و انجام میدهیم توجه می کنند.

۱۰ – تســلط بر مکالمه های مهــم: از آن جايي که مکالمه هــای هیجانی و احساســی ممکن دچار آشــفتگی شوند رهــبران ترجیح میدهند تا از این مکالمه ها امتناع کنند.

۱۱ – رهبری گروهای مجازی و قــرار دادهــای مســتقل: رهبران باید کسب و کارهای جهانــی را بطــور مجــازی هدایت کنند.

۱۲ – رهبری خلق مشارکتی: رهبران باید بــه فکر توانمند ســازی کارکنــان و اعضای گــروه های شــان باشــند و همراه با آنها تغیرات را ایجاد کنند.

نتیجه گیری: چونکه مهارت هــای مدیریتی باعــث بهبود عملکرد مدیریت شــده و به کمک آن ســازمان به اهداف خــود نایــل می گــردد برای تحکیم و ایجاد ارتباط سالم بیــن رهــبران و کارمنــدان لازم اســت تا رهــبر تمام آن خصوصیات و ویژه گی های لازم را دانســته و به آن عمل نماید و داشــتن مهارت برای مدیریــت اساســی یک امر لازمــی و حتمی بوده و یکی از عوامــل مهم اســتمرار و موفقیت سازمان نیز میباشد.

**منابع:**

**-صالحی ابوتــراب (۱۳۹٤) رابطه مهــارت های مدیران با پیشرفت تحصیلی**

**-رحمانی پوهنوال عبدالطیف (۱۳۹٦) مدیریت منابع بشری**

**-سایت انترنتی**

# کــرم اســـکاریس

داکتر محمد داود ((حیدرزی))

واقعات اسکاریس به فیصدی های مختلف درتمام جهان دیده شده،اما در مناطق مرطوب وگرم عمومیت داشــته مخصوصــآ در ممالکی که حفــظ الصحــه فــردی و محیطی مراعــات نمیگردد ماننــد ممالک آســیایی و افریقایی.اســکاریس لومبرکوئیــدس ،بزرگتریــن کرم (کــرم گــرد)در روده کوچــک انســان اســت که موجب مریضی اسکاریازیس(ascariasis)در انسان میشــود.مهم ترین عوارض ابتلا به اسکاریازیس را میتوان به ســو، تغذیه مزمن اشاره کرد،زیرا این کرم به تغذیــه از مواد غذایی موجــود در روده میپــردازد. در واکنــش به کــرم ،ممکن اســت گرانولوما در روده تشــکیل شــود که آن نیز درنتیجه میتواند منجر به انسداد روده ها شود.

ویژگی ها: کرم اسکاریس معمولآ سفید رنگ تا صورتی هستند.طول اسکاریس ماده۲۰ تا ۳۵ سانتی متر اســت.این کرم تخمگذار اســت .تخــم هــای این کــرم در سرما و رطوبــت ودر مقابــل بعضی مواد کیمیاوی خیلــی مقاوممند وممکن است تا ٥ ســال زنده بمانند ولی در خشــکی و درمقابل نــور آفتاب بیشتر از چند هفته زنده نمی مانند. کرم کاهل در روده های کوچــک مــدت یک ســال زنده گــی کرده





میتــواند و هر کرم مونث روزانه تقریباً۱۰۰۰۰۰ الــی ۲۰۰۰۰۰ تخم میـــــگذارد که با مواد غایطه به خارج اطراح میشود.این کرم از راه آب ،خــاک و غذای آلوده وارد بدن میشود.

اعــراض و علایــم: در انتانــات خفیف آنــــقدر حــوادث خطر ناک بوجود نمی ایــد ،اما وقتیکه تعــــداد پرازیــت هــا زیــاد باشــداعراض و عـــلایم ذیل را بوجود میآورد.

۱- تشوشــات هضمی:این پرازیت جــدار امعــا را تخریــب نمــوده نمیـــتواند واز همــان نوع مواد غذایــی اســتفاده مینـــماید که هنـــوز هضم نگردیــده ازاین سبب اعراض مهم بوجود نمی آید، اما بعضآ تشوشــات عــادی مانند درد شــکم، دلبدی، استفراغ،پرآبی دهن،پرخــوری ، لاغری و اسـهـا لات نزد مریض دیده میشود.

۲- تشوشــات عصبی:اختــلالات عصبــی ماننــد لــرزش وتشــنج،عصبانیت و زود رنجـــی،دیدن خوابهــای آشــفته،پریدن از خــواب، ســـردرد و سر گیچه است.

۳- تشوشــات تنفســی:لاروای پرازیــت هنگامی که به اســناخ برســند نزف یا خونریزی بوجود میــآید .بــه این ترتیب از ســبب تخریب اســـناخ سرفه یا تراکم مایع در اسناخ بوجود میآید .این حالـــت بعضآ بــا توبرکلــوز ریــه مغالــــطه میـــشود. زیــرا مریض تب ، ســــرفه و هیموپتیزس ( موجودیت خون در بلغم)دارد. همچنان تشوش مـــهم آن در LOEFLER SYNDROM میبــاشد که این سندروم متصـف با صرفه ، تب پائینُ نا آرامی و نفس تنگی بوده ودر ریه ها صداهای پتا لوژیک(مرضی)قابل سمع میباشد.

۴- وقتیکــه تعــداد کرمهــا زیــا باشــد از تراکم آنهــا بضآ بصورت میخانـــیکی انسداد یا بـــندش امعــا بوجــود میـــآید کــه مداخلـــه جراحی ضروریست.

۵- موقعیــت اصلــی اســکاریس در امعای رقیقه میباشــد،اما بعضا ایــن پرازیــت دراعضــای مجاور خصــــوصآ درکیســه صفــرا و پانــــکراس مهاجــرت نمــوده و سبب بندش قنیوات شان گردیده و حوادث خطرنــاک را بار می آورد .همچنان اپندیسیت از سبب داخل شـــدن کرم در اپندکس بوجود می آید.

تشــخیص لابراتــواری: بــرای تشــخیص قطعــی تخــم پرازیت در مــواد غایطــه جســتجو گردد ،طوریکه یک مقدار مواد غایطه با محلــول فزیولوژیک و لوگول مخلوط شده بالای سلاید گذاشته شده و تحت مایکروسکوب دیده میشود.

تــداوی : mebendazol-۱ دوای موثر که عوارض جانبی نداشته و تنها نزد اطفالی که ســن شان از ۲ سال کمتر باشد و برای زنان حامله توصیه نمیگردد.

تابلیت های ۱۰۰ ملی گرام در بازار تجارت موجود است که روزانه ۲ تابلیت برای ۳ روز توصیه میشود.

۲- Albendazol: به مقدار ۴۰۰ ملی گــرام به دوز واحد داده میشــود. موثریت تداوی بالاتر از ۹۵فیصد میبــاشد. در واقعات شـــــدید تــداوی را بــرای ۲-۳ روز ادامــه میدهیم.

۳- levamesol: دوای موثر اســت که بشــکل تابلیت های ۵۰ ملیـــ گــرام و ۱۵۰ ملی گــرام در بازار تجــارت موجود اســت و به مقدار ۲،۵ملی گرام فی کـــیلو گــرام وزن بــدن بــه دوز واحــد توصیــه میگردد. در یک ص۵

## کـرم...

فیصد واقعات دلبـدی، استفراغ و سرگنگسی وجود میداشته باشد که آنقدر اهمیت نـدارد. برای کاهلان ۱۵۰ ملی گـرام دوز واحد داده میشود.

peperazin-۴:بشکل یترات و فاسفات موجود است کـه داوی انتخابی این مرض بوده وبشکل ذیل استعمال میگردد.اطفالی که وزن شان از ۱۰ کیلو گرام کمتر است ۲۰ گرام اطفالیکه وزن شان از ۱۰- ۲۰ گـرام باشند۳گراماطفالیکه وزن شـان از ۲۰ گـرام اضافـه باشـد۴گرام ادویه فوق بشکل شربت وتابلیت موجود بوده و ترجیحآ ناوقت شب ویا صبح وقت توصیه میگردد.طفل ۱۲ ساعت بعد از گرفتن دوا باید مواد غایطه را دفع نماید ، زیرا تاثیر آن بعد از ۱۲- ۱۴ ساعت از بین میرود و همراه با این دوا باید مسهل استعمال شود.

پیشگیری:

-شستشوی دستهـا قـبل از خـوردن غـذا

- خـودداری از داخل کردن انگشتان به دهـان

- احـداث توالت های صحی ودفـع صحی مـدفـوع

- اسـتفاده نکـردن از کـود انسانی در کشت و زراعـت

- شسـتن دقیـق میـوه ها و سـبزی ها به خصوص آنهایی که به شـکل بوتـه و درختچه هستند و در معـرض آلوده گی ها منتقله از مدفوع سگ و پشک هستند.

## د صهیونیستي...

چې له کنټرول څخه وتلي او د ټولې سیمې او نړۍ په زیان بـه تمامـه شي.د اسرائیلو له وحشت څخه د ځینو هیوادو ښکاره ملاتړ او د ځینـو خاموشۍ د دې زمینه مساعده کړې،چې صهیونسـتي رژیم خپلو مظالمو او وحشـت ته دوام ورکړي.

موږ له فلسـطینیانو او هغو هیوادونـو او نهادونـو سره همغږي یـو، چـې د رواني نسل وژني عاجل مخنیوي او د جنایتکارانـو محکمې ته د کشولو غوښتنه کوي.

## هرات کې د ...

تاکل شـوې، چې په سیاه آب کلي کې به ۲۷۹، په نایب رفیع کلي کـې ۳۰۰، په سربلند کلي کې ۱۲۳، په کشکک کلي کې ۱۰۰، پـه کلای نوک کلي کې ۳۰، په کجـکال کلي کې ۶۰، په بادک کلي کې ۶۵ کورونه دي. په کرنیل وردگ ها کلي کې ۱۳۳، په چاهک کې ۳۰۰ ، د عبدالآباد او حضرتآباد په دووکلیو کې ۳۶، د ازقلک او قصر شیرین په دوو کلیو کې ۵۲، پـه جگـده کلي کې ۳۰، پـه گزیبالا کـې ۴۵، د گول خان او غازي پـه دوو کلیو کې ۵۰، د سـیلکوه او سنگ سفید په دوو کلیو کې ۷۲، په چاه زهي او بهادر زهي کلیو کې ۱۰۵، پـه خواجه محمد شـوراب کلي کې ۸۰ ، په چاه زهي او هلال زهي کلیو کې ۹۲ او د زوریانو په چاه زهي کلي کـې ۱۱۵ کورونه جوړ شي.د یادونـې وړ ده، چې (د تلـې پر ۱۵ مـه) هرات څو زورورو زلزلو ولړزاوه، چې د دې ولایت سلگونه کورونه ویجاړ او څه باندې دوه زره کسان مړه او په زرگونه نور ټپیان شول.

## د ټرانزیټ په ...

ټرانزیټـي سـتونزې ډېرې دي او پـه کار ده چې د حل لارې ورتـه ولټـول شي.پـه غونډه کې د ټولګټو وزارت د سړک جوړوني دیپارټمنت آمر فیض محمد سپین گل چې د یـاد وزارت د سرپرسـت پیغـام یـې ولوسـت وویل ،چې پـه یـو هیـواد کې د ترانسـپورتي سیستم ښه والي او اصلاحاتـو سره د خلکو سـتونزې کمېـږي او د دې تـر څنگ د هیـواد صنعت، زراعـت او سـوداگرۍ کې ښـه والي رامنځتـه کېږي.ده زیاتـه کړه، چې اوس مهال د هیواد ترانسپورتي سیستم له گنو ستونزو سره مخ دی او د هیوادوالو اساسي اړتیاوې نه شي پـوره کولی، چې له کبله یې په بازارونـو کې د توکو بیې هم لوړې شوې دي.سپین گل وویـل، چـې د ټولگټو وزارت لـه خـوا د هیـواد پر لویـو لارو او سـړکونو جوړولـو باندې پـه چټکۍ سره کار دوام لـري. (( د ټولگټو وزارت ژمن دی، چې د سړکونو جوړونه او ساتنه وکړي او دا مهال د سـړکونو د جوړونې، ساتنې او څارنې چارې په چټکـۍ سره دوام لري.))د ارشاد حج او اوقافو وزارت سرپرسـت مولـوي نـور محمد ثاقـب په همدې مناسبت جوړې شوې غونډې تـه وویـل، چې د اسـلامي امـارت پـه راتـگ سره په هیواد کې بشپړ امنیت تامین شـوی، رغنیزې چارې دوام لري، زراعـت، اقتصـاد او صنعت ښـه پرمختگ کوي. ((اسلامي امارت د ټول هیواد لپاره د یو کور د سرپرسـت حیثیـت لـري، دا ملـت پر اسلامي امارت حق لري، چې د دوی د ټولو سـتونزو حل ته جدي پام وکړي. اسـلامي امارت مسـئولیت لري ،چې د خلکو سـتونزو ته رسېدنه وکړي.))د غونډې په جریان کې د کابل واټ ترانسـپورټ رئیـس جنـت گل وویل: په تېر نظام کې د ترانسـپورټ په برخـه کې هېـڅ معیاري کار نه دی شوي، خو اسلامي امارت هڅه کوي ،چې په دې برخه کې شـته ستونزې حل کړي.ده زیاتـه کړه ،په کابل ښـار کـې د ۳۷ زره ټکسـي موټـرو ظرفیـت شـته، خو اوس شاوخوا ۸۰ زره ټکسي موټـر پـه کـې چلېږي ،چې د گڼې گونې سـبب شوي.ده له اړوندو وزارتونو غوښتنه وکړه ،چې هیـواد ته د ټیټ ماډل او کیـڼ لاس موټرو له واردېـدو مخنیـوی وکړي. ((د کورنیـو چـارو وزارت د ټرافیکو له ریاسـت څخه مو هیله ده، چې خپل ښاري، کلیوالي او نیمه ښاري ټکسي موټرو تـه ژر تر ژره ټکسي لایـن ورکـړي او د رنگ په نوعیت سره یې سـمبال کړي او د گڼې گڼوڼـې د مخنیوي پـه هـدف خلکو تـه عامه پوهـاوي وشي))د یادونې وړ ده چې د خراب ترانسپورتي سیسـتم لـه کبلـه پـه دې وروستیو کې د هېواد په لویو لارو او ښارونو کې ټرافیکي پېښې زیاتې شوې چې خلک یې سخت له ستونزو سره مخ کړي دي. احمدي

## جمهوریت روغتون ...

یـا سرطـان او هېمودیالېـز ځانگـې به د کابـل صدري ابن سـینا روغتون ته لېږدول کېـږي او نـورې برخې به د کابل په عـلي جناح روغتون کـې لـه همدغـو روغتیایي پرسونلو سره خپل فعالیت ته دوام ورکوي.د عامې روغتیا وزارت ویانـد ډاکټر شرافت زمـان وایـي: ((کېدای شي موږ تر ۶ یا ۷ میاشـتو پورې تـر هغـه چـې دا روغتون جوړېږي، له یو لړ سـتونزو سره به مخ یو، خو د دې لپاره چې خدمتونه ونه دربېږي او روغتیایي خدمتونه همداسې روان وي، پـه دغـو دوو روغتونونـو کـې مـو ورته وارډونه او ځایونه ځانگړي کړي ،چې خدمتونه وړاندې کړي.))په ورتـه وخت کې یـو شـمېر ډاکټـران هـم د عامې روغتیـا وزارت د دغه گام هـرکلي کـوي او وایي، چې که دا پلان هغسـې چې طرحـه شـوی عملي شي، د دې روغتـون د خدمتونـو د کمیـت او کیفیـت پـر لوړېدو سربېـره، د کادرونو روزلـو تـه بـه هـم زمینه برابـره شي.د عامـې روغتیا متخصص او د افغانسـتان د اسـلامي طبـي ټولنې مشر ډاکټـر محمدیوسـف طیب وایي، چـې د افغانسـتان پر روغتیایـي سـکتور د بـاور زیاتېـدو لپاره بایـد د عامې روغتیـا وزارت د خدمتونـو کیفیت تـه ځانگړې پاملرنه او پرې پانگونه وکړي: (( د خدمتونـو د کیفیت په برخه کې لومړي بشري قوه ده، چې باید متخصص کدرونه ولرو، دغـو کدرونو تـه امکانات برابـر کړو، پـه روغتونونو کې د شفټ سیستم عملي شي، د عامې روغتیـا وزارت باید په تشخیصیه وسایلو پانگونه وکـړي او د درملـو کیفیت تـه باید جـدي پاملرنه وشي او د درملـو کیفیت په جدي توگه وڅـارل شي.))د یادولو وړ ده چـې د عامـې روغتیا وزارت هغه گنگوسې هم رد کړې چـې گڼې د جمهوریت روغتون له بیارغولو وروسته خصوصي کېږي او د پیسو په بدل کې به خدمتونه وړاندې کوي، نوم یـې بدلېږي او یا اوسني پرسـونل او ډاکټر یې نـورو روغتونونو ته لېږدول کېـږي او دلتـه پاکسـتاني ډاکټـران راوسـتل کېږي.د دغه وزارت چارواکي وایي، چې دوی د خپلـو روغتیایي پرسـونلو د کمولو هېڅ پلان نـه لري، بلکې غـواړي چې خپل پرسـونل نور هم زیات کړي. فضل هادي حمیدي

## د افغان کډوالو ...

به هغه افغانـان زیانمن کړي چې د یوه خونـدي ژوند په تمه پاکسـتان ته کډه شـوي. دا په داسـې حال کې ده چې د پاکسـتان حکومت په دغه هېواد کې مېشـتو غیر قانوني افغـان کډوالو تـه د رواني اکتوبر میاشتې ترپایه وخت ورکـړي چې له دغـه هېواد څخه ووځـي، که نه په زور به یې وباسي.

## پاکستان کې مېشت...

وخت کـې یوشـمېر افغان کـډوال چـې په تېـرو څو ورځو کې هیواد ته را ستانه شـوي، لـه اسلامي امارت څخه غواړي ،چې دلته ورته د تلپاتې اوسـېدو آسانتیاوې برابـرې کـړي. وزیراحمد سـاپی او زاهدالله وایي: (( هغه کډوال چې افغانستان ته راځي، لومړنۍ مرسـتې او د اوسـېدو لنډمهالي ځای ورته رسېږي، خو موږ تلپاتې مېنې ته اړتیـا لرو او بایـد د کار آسانتیاوې راته برابرې شي.)) (( د حکومت له لوري راسره مرسته شـوې، لکه خوراکي کڅوړې او لنډمهاله ځایونه. مـوږ هیله لـرو ،چې خلک بېوسـه دي، ډېره مرسته دې ورسره وکـړي چـې خلک ډېر اړمن دي.))دا په داسـې حال کې ده چې د پاکسـتاني پولیسـو لهخـوا د یوشـمېر افغان کډوالـو له نیول کېدو سره هممهالـه د دې هیـواد حکومـت هغـو کډوالو ته چـې پـه ناقانونـه توگه په پاکسـتان کې ژوند کوي، د روانـې اکتوبر میاشـتې تر ۳۱مې وخت ورکړی، څو له دې هیـواد څخه ووځي، خو که ونـه وځي، په زور به یې وباسي.د پاکسـتان د کورنیو چـارو وزارت سرپرسـت سرفرازاحمـد بگټي د جمعې پـه ورځ یـوې غونـډې ته ویلي، چـې د ناقانونه کډوالو لپاره د ټاکل شـوې مودې له پای ته رسـېدو وروسته به د پاکسـتان حکومت د هغوی د ایستلو برخه کې هېڅ ډول جوړجاړی ونه کړي.

## افغانستان د ۳۳ ...

زره ۹۵ ټنو سره د افغانسـتان له لارې نـورو هیوادونو ته صـادر ات کـړي دي. دغه ریاسـت زیاته کړه، شمېرې ښـیي، چې پاکسـتان له ۱۱۷ زره ۸۶۵ ټنو سره، ازبیکستان لـه ۱۱۲ زره ۵۵۵ ټنـو سره او تاجکسـتان لـه ۷۰ زره ۵۳٤ ټنـه مالونـو سره د هغو هیوادونـو په ډلـه کې دي، چې د افغانسـتان له لارې تر ټولو زیـات توکي واردوي.د یادونې وړ ده، چې صادرات او واردات د هیواد د بندرونو او هوایـي ډگرونـو له لارې ترسره کېږي.

## جاپان په...

دي. تـاکاشي اوکادا پـه تېـرو دوو کلونـو کـې د حکومتوالـۍ او اقتصـاد په برخه کې د اسلامي امارت د مهمو لاسـته راوړنو قدرداني وکـړه او په ټـول هېواد کې یـې د ۲۵ میلیونـو ډالرو په ارزښت د ۱۶۵ ښـوونځیو د بیارغونې او ترمیم غوښـتنه وکـړه چـې د ښـځینه زده کوونکو لپاره یې د ښوونځیو او لوړو زده کړو د پرانیستلو غوښـتنه وکـړه. د اقتصـاد وزارت سرپرسـت په دې اړه وویل: جاپان د افغانسـتان له خلکو سره اوږده او تاریخي دوسـتي لـري، د کرنـې او زیربناوو پـه برخه کې او د پراختیایـي پـروژو د تطبیق په برخه کـې د جاپان هېواد مرستې دوام لري.

## له راستنېدونکو...

فعالیتونـو پـه پیلولو کې یې د دې اداري د دوامـدارې همـکارۍ غوښـتنه وکـړه. پـه دې کتنه کـې د کورنیو بـې ځایه شـویو د وضعیت او مرسـتو د همغږۍ رئیس مولـوي سردار شـېرزاد او شېخ عبدالرحمن رحماني هم حضـور درلود، له پاکسـتان څخـه د راسـتنېدونکو د جـدي سـتونزو یادونـه یې وکـړه او له هغـوی سره یې د لا زیاتو مرسـتو غوښـتنه وکړه. له بلـې خوا په سرحد کـې د کډوالـو د نړیـوال سـازمان د مرسـتو همغږي کوونکـې آغلـې انگهراد او د دغې موسسـې د ارتباطاتو مسـئول عبدالمتـین وویـل ،چې دوی بـه د مهاجرینو د چارو لـه وزارت سره د هغو آسـانتیاوو په لرلو سره خپلو مرسـتو ته دوام ورکړي چې دوی یې لـري. آغلې انگهراد زیاتـه کړه، چـې اوس مهال د افغانسـتان پـه پولو کې د یادې اداري دفترونه له نورو مرسـتندوي، موسسو سره په تفاهم له راسـتنېدونکو سره خپلې مرستې کوي. په همدې حال کې له ایران او پاکستان څخـه د ناقانونـه افغـان کډوالو د راسـتنیدو بهیر په دې وروستیو کې زیات شوی دی.

## پکتیکا کې زلزله...

خونـې، دهلېز، یو تشـناب او پخلنځـي لـري. هغـه همدارنگـه وویل چې د دغو کورونـو د جوړولـو چارې د ۱۴ میاشـتو پـه مـوده کې بشـپړې او گټې اخیستنې ته وسپارل شـول. د یادونې وړ ده، چـې لـه دې وړاندې هم پـه یاد ولایت کې یو شـمېر مؤسسو او خیریه بنسټونو د زلزله ځپلو لپاره د اسـتوگنې کورونه جوړ کړي دي.

## بغلان کې ۵۰ تنه...

نوموړي وویل: (( د اسـلامي امـارت د بریا یو مهم عامل د امریکایي اشغال پر وړاندې د امـارت د مجاهدینو ترمنځ یووالي و تاسـو هم باید هڅه وکـړئ ، چې په خپـل منځ کې یووالي ولـرئ ځکه چې دا بـه تاسـو په ټولـو چارو کې بریـالي کـړي))د امنیې قوماندانـۍ د ښـوونې او روزنې مدیر مولـوي صدام صدر چـې د دغـو سرتېرو د فراغـت په مراسـمو کې گـډون کړي و وویل: (( نن ورځ، د مسـلکي روزنیـزې دورې له بشـپړولو وروسته، تاسـو د دې وړتیا لرئ، چې د نـورو مظلومو مسـلمانانو سره مرسـته وکړئ او د خپل هیواد امنیت په بشـپړه توگه تامـین کـړئ))ده زیاته کړه ،چې د دغو سرتېرو فراغت د پلخمري ښار او د ولسوالیو د امنیت د تامینولو په برخه کې یو ښه گام دی، دغه سرتېري په بشـپړه توگه مسلکي دي او پـه هـر ډول حالاتو کې ځانگـړي چمتـووالي لري. همـداراز لـه دې روزنتـون څخه فارغو شـویو سرتېرو وویل، چـې تر هغـه وخته پورې به لـه خپل وطن څخه دفاع کوي چې یوه څاڅکي وینه مو په تن کې وي.

## رېکشا چلوونکي...

پرتله اوس کمه شوې،هغسې مـزدورې اوس نشـته. لـه دولـت څخـه مو غوښـتنه دا ده، چـې کـوم مـصرف پـه پلیـټ باندې راځـي، دا مصرف کـم کړي او تخفیف وکړي)) (( د ښـاروالۍ ۴۰۰ افغانۍ دي، داسـې نور دي. اوس پخـوا غونـدې کارونه نشته، ریکشـاوې هم زیاتې شـوې او کارونه هم خراب شـوي دي. زموږ له دولت نه غوښـتنه دا ده، چې باید موږ سره همکاري وکړي))د دوی په خبره: که څه هم اوسـنی مالیـات چـې ۲۲۵۰ افغانۍ دي ،چـې پخوا هم همدومره وو، چې په اوسـنیو شرایطو کـې د دوی له وسـې پورته دي.بله خـوا، پـه ننگرهار کـې د ترافیکـو مدیر جواد شـېرزاد بیـا وایي: ریکشـا چلوونکـو ته یـې پخوانی باقیداري معاف کړې، تر څو دوی وکولی شي تر راتلونکو درېو کلونو پورې د ریکشو کاغذونه پـاک کړي.(( هغه جریمه ،چې هغه د ریکشـو ده، که د موټرو ده، هغه ټوله معـاف ده، هغـه مالیه چې کومه تاسـې یې ښیئ ،چې د اسـلامي امارت لـه خوا یا د جمهوریـت د وخـت نه ده؛ هغـه ۲۲۵۰ افغانۍ ده. له دې پورته څوک نه شي اخیستی، ځکه چې دا قانوني حق دی)) دا په داسې حال کې ده ،چې په دې وروسـتیو کـې د تېلو بیې یو ځل بیا لوړې شوې.

## کمک به آسیب...

بیشتر شده است.گفتنی است که روز گذشته ساخت خانه و شـهرک برای ۲۱۴۶تن در مناطق زلزله زده آغاز شد.

یک رشـته زلزله های اخیر در هـرات، نزدیـک به دو هزار کشته ودو هزار زخمی به جا گذاشت.

# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۲۵۲۶۳۱۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹

پنجشنبه د ربیع الثاني ۵ مه ۱۴۴۵ ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د تلې ۲۷ مه د 2023 م کال داکتوبر۱۹ مه


## جاپان په افغانستان کې ۱۶۵ ښوونځي جوړوي

په افغانستان کې د جاپان پخواني سفیر تاکاشي اوکادا د اقتصاد وزارت له سرپرست دین محمد حنیف سره په کتنه کې د افغانستان له خلکو سره د بشري مرستو د دوام ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې جاپان په ټول افغانستان کې د ۲۵ میلیونو ډالرو په ارزښت ۱۶۵ ښوونځي جوړوي.د اقتصاد وزارت مطبوعاتي دفتر د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي ،چې د دې وزارت سرپرست قاري دین محمد حنیف د جاپان له پخواني سفیر تاکاشي اوکادا او



له نوي سفیر تاکا یوشي کورومیا سره وکتل. په دې کتنه کې د جاپان پخواني سفیر تاکاشي اوکادا په افغانستان کې د خپل درې کلن ماموریت د پای ته رسېدو او په افغانستان کې د جاپان د نوي ټاکل شوي سفیر تاکایوشي کرومیا د معرفي کېدو په اړه د اقتصاد وزارت سرپرست ته معلومات ورکړل. په افغانستان کې د جاپان پخواني سفیر تاکاشي اوکادا په هرات ولایت کې د زلزلې له قربانیانو سره د غمشریکۍ د څرګندولو په ترڅ کې په افغانستان کې د دوی د فعالیتونو په اړه خبرې وکړې او یادونه یې وکړه ،چې جاپان خپلې بشري او بېړنۍ مرستې چې کمپلې، خوراکي توکي او دواوې په کې شاملې دي،ور استولې **۵مخ**

## پکتیا کې د یو سړک د جوړولو چارې پیل شوې

د پکتیا په مرکز ګردېز ښار کې پرون د ښاروالۍ له لوري د ۳۷ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه سړک د جوړېدو چارې پیل شوې. د ګردېز ښاروال سیدنظیم مزمل وایي، چې یاد سړک په بنستیزه توګه رغول کېږي چې لګښت یې د ښاروالۍ له لوري ورکول کېږي. د نوموړي په وینا، یاد سړک یوکیلومتر اوږدوالي لري او د دېرش متره پلنوالي ترڅنګ به یې دواړو غاړو ته اساسي ویالې او د پلي تګ لارې هم جوړې شي. نوموړي وویل چې یاد سړک د ښاري ماسټر پلان د پلي کېدو یوه برخه ده چې په وینا یې ۳۰سلنه ښاري ماسټر پلان پلي شوي او د پاتې چارو د پلي کېدو هڅې یې رواني دي.

## له راستنېدونکو سره د کډوالو د نړیوال سازمان مرستې دوام لري

د کډوالو د نړیوال سازمان رئیس د اسلامي امارت د وزارت له مسئولینو سره په کتنه کې له راستنیدونکو سره



کډوالو او راستنیدونکو چارو د دې سازمان د مرستو د دوام ډاډ ورکړ. د کډوالو نړیوال سازمان چارواکو د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د دفتر رئیس قاري محمد اجمل ویاړ سره په کتنه کې د دې دفتر د مرستو د دوام ډاډ ورکړ. د کډوالو چارو وزارت د مطبوعاتي دفتر د خبرپاڼې له مخې، په دې کتنه کې د دې وزارت د رسمي دفتر رئیس د دغې اداري د تېرو همکاریو قدرداني وکړه او د راستنېدونکو د ستونزو د حل او د **۵مخ**

## پکتیکا کې زلزله ځپلو ته د استوګنې ۱۰۰۰ کورونه جوړ شول



د پکتیکا د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست مسئولین وایي: د دې ولایت په برمل ولسوالۍ کې د یونیسیار په مالي ملاتړ ۱۰۰۰ زلزله ځپلو کورنیو ته کورونه جوړ شول. د دې ولایت د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې رئیس مطیع الله منصور وویل ،چې د دې ولایت په برمل ولسوالۍ کې د یونیسیار په مالي ملاتړ د ۴ میلیونه او ۸۰۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت د زلزله ځپلو لپاره ۱۰۰۰ کورونه جوړ شوي دي. منصور زیاته کړه هر کور دوه د استوګنې **۵مخ**

## له کندهارڅخه څه باندې۳۳ زره ټنه انار بهرنیو هیوادو ته صادر شوي

د کندهار د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي، له دې ولایته بهرنیو هیوادونو ته د انارو صادرات پیل شوي دي او تر دې مهاله یې پاکستان، هند او قراقستان ته ۳۳زره او ۵۷۸ ټنه انار صادر کړي دي. د کندهار د سوداګرۍ او پانګونې خونې مرستیال عبدالباقي بنا وایي، د کندهار انار د خوند او ښه کیفیت درلودلو له امله په نورو هیوادونو کې ډېر مینه وال لري، او دغو هیوادونو ته یې د صادراتو غوښتنه زیاته شوې ده. بله خوا د کندهار ولایت د انارو بڼوال د انارو د سږني کال د حاصلاتو څخه ډېر راضي نه ښکاري. دوی وایي: سږکال د نورو کلونو په پرتله د انارو حاصلات کم شوي دي. بله خوا سوداګر وایي، د انارو د صادراتو لپاره یې په سیمه کې لوی مارکېټ پاکستان دی، خو پاکستان ډېرې وختونه په کندهار کې د تازه مېوو د حاصلاتو پر مهال د سپین بولدک پر دروازه ستونزې جوړوي. سوداګر غوښتنه کوي ،چې د کندهار د انارو او نورو محصولاتو د صادراتو لپاره له پاکستان پرته بدیلې لارې ولټول شي.

## بغلان کې ۵۰ تنه ملي پولیس له دوه میاشتنیو زده کړو فارغ شول

د ځلورم ځل لپاره د ملي پولیسو ۵۰ تنه غړي د بغلان د امنیې قوماندانۍ له ښوونیز ټولي څخه له دوه میاشتنیو پوځي، تخنیکي، مسلکي او عقیدتي درسونو وروسته فارغ شول.په همدې اساس په روزنیز ټولي کې د امنیه قوماندانۍ د امنیت آمر قاري عبدالغیور خادم، د اداري چارو مرستیال مولانا عبادالله معاذ، د ښوونې او روزنې مدیر مولوي صدام صدر، د روزنیز ټولي قوماندان قاري جمعه الدین او د یو شمېر نورو ملکي او نظامي چارواکو په شتون کې غونډه جوړه شوه.د بغلان ولایت قوماندانۍ د ښوونې او روزنې له ځلورمې دورې څخه د ملي پولیسو د فراغت مبارکي وویله



د امنیې قوماندانۍ یو تن مسئول مولانا عبادالله معاذ د امنیې او د دغې دورې فارغانو ته یې ځینې لارښوونې وکړې. **۵مخ**

## کمک به آسیب دیدگان زلزله ادامه دارد

سخنگوی کمیسیون رسیدگی به زلزله زدگان هرات می‌گوید که کمک رسانی به نیازمندان در مناطق مختلف به گونه دوامدار از سوی هلال احمر افغانی و نهادهای کمک‌رسان ملی و بین المللی ادامه دارد.
مولوی احمدالله متقی رئیس اطلاعات و فرهنگ هرات وسخنگوی کمیسیون رسیدگی به زلزله زدگان هرات می‌گوید که توزیع مواد غذایی، مواد سرمایی و گرمایی همچنان به نیازمندان در ساحات آسیب دیده جریان دارد.
در ادامه کمک ها به مناطق زلزله زده دیروز هم اداره سره میاشت افغانی، نهادهای کمک‌کننده داخلی و بین‌المللی و افراد مختلف، کمک‌های مورد نیاز آسیب‌دیده‌ها را به مناطق شان رسانده و توزیع کردند.در همین حال شماری از متضررین زلزله می‌گویند که با فرارسیدن فصل سرما، مشکلات شان بخاطر نداشتن خانه، **ص۵**

## ریکشا چلوونکي له لوړو مالیو شکایت کوي

په دې وروستیو کې په ننګرهار کې د ترافیکو مدیریت ریکشا چلوونکو ته د کلنیو مالیاتو د اخیستلو خبر ورکړی دی.ریکشا چلوونکي وایي: د پخوا په پرتله یې په مزدورۍ کې د پام وړ کموالی راغلی دی.



د هغوی په وینا: پخوا به یې د ورځې زر افغانۍ ګټلې، خو اوس ټوله ورځ ایله ۳۰۰افغانۍ مزدوري کوي ،چې دا یې د کور لومړنۍ اړتیاوې هم نه ور پوره کوي.ریکشا چلوونکي د مالیاتو ورکړې ته اندېښمن دي او له مسئولو چارواکو څخه غوښتنه کوي ،چې مالیات یې راټیټ کړي.احسان الله او بشېر چې په جلال اباد ښار کې ریکشا چلوي وایي: (( پخوا چې کومه مزدوري وه، د هغې په **۵مخ**

## بهرنۍ لنډخبرونه

### په غزه کې پر یو روغتون د اسرائیلي اشغالګرو د برید په اړه نړیوال غبرګونونه



د غزې پر ((المعمداني)) روغتون د اسرائیلي اشغالګرو په برید کې د سلګونو ملکي کسانو د وژنې په اړه نړیوال غبرګونونه دوام لري.د ملګرو ملتونو سرمنشي ((انتوني ګوټېرېش)) ویلي چې په غزه کې پر روغتون برید کې د سلګونو ملکي فلسطینیانو وژل کېدو وېرولې دی.ده پر ایکس‌پاڼه دا پېښه غندلې او زیاتوي چې روغتونونه، کلینیکونه، روغتیایي کارکوونکي او د ملګرو ملتونو اړوند تاسیسات د نړیوالو قوانینو پر بنسټ خوندي دي. سېپینې ماڼۍ هم په یوه اعلامیه کې ویلي بایډن د غزې د روغتون په چاودنه کې د بې ګناه خلکو پر وژل کېدو خواشینی دی.د اردن د بهرنیو چارو وزیر ایمن الصفدي ویلي : هیواد یې له جو بایډن سره پلان شوې غونډه لغوه کړې ده.
دا غونډه د اردن پایتخت امان کې پلان شوې او ټاکل شوې وه چې بایډن په کې د اردن، مصر او فلسطین له مشرانو سره وګوري.د.
روغتیا د نړیوال سازمان عمومي رئیس «تېدروس اډانوم ګیبریوس» دا برید غندلی او ویلي یې دي، چې په دې برید کې سلګونه فلسطینیان وژل شوي.
وړمه ورځ د غزې د روغتیا وزارت وویل، چې په غزه کې پر یوه روغتون د هوایي برید له کبله د وژل شویو کسانو شمېر ۵۰۰ ته رسېدلی دی.

### د غزې او اسرائیلو جګړه؛ د حماس د سیاسي مشر اسماعیل هنیه د کورنۍ ۱۴ غړي شهیدان شوي



په داسې حال کې چې پر غزې ترانګې د صهیونیست رژیم وحشیانه هوایي بریدونه دوام لري او «المعمداني» روغتون په یو وحشیانه برید کې ویجاړ او ۱۰۰۰ تنه فلسطینیان پکې شهیدان او ټپیان شول. تازه اسرائیلي رسنیو خبر ورکړی، چې د حماس غورځنګ د سیاسي مشر «اسماعیل هنیه» د یو زوی په ګډون یې د نوموړي د کورنۍ ۱۴ غړي وژلي دي.په ورته مهال ځینو فلسطیني رسنیو هم د اسماعیل هنیه د څو ماشومانو او لمسیانو د شهادت خبر تایید کړی دی.د حماس د پوځي څانګې «القسام لیوا» بیا د یوې خبر پاڼې په خپرولو سره ویلي، چې پر ((المعمداني)) روغتون د صهیونېستانو د برید په غبرګ کې یې داشغالګرو «حیفا» ښار په آر ۱۶۰ توغندیو ویشتلی او درنه مرګ ژوبله یې ور اړولې ده. عبراني رسنیو هم پر حیفا د حماس د بریدونو تایید کړی او وایي مرګ ژوبله یې اړولې؛ خو د دقیقو شمېرو په تړاو یې تر اوسه څه نه دي ویلي.د ترکیې ولسمشر «رجب طیب اردغان» پر ولسي وګړو د صهیونیستي رژیم وحشیانه بریدونه غندلي او په خبره یې حوصله یې په ختمېدو ده او د یو مناسب اقدام په اړه فکر کوي.صهیونیستي رژیم ته نږدې سرچینو بیا خبر ورکړی، چې پر المعمداني روغتون په وروستیو هوایي بریدونو کې امریکایي توغندي کارول شوي دي. خو امریکا تر اوسه د یادې ادعا په تړاو څه نه دي ویلي.د فلسطین د خپلواکې اداري مشر «محمود عباس» پر المعداني روغتون د صهیونیست رژیم وروستی برید بشري ضد جنایت بللی. درې ورځې یې ملي ماتم اعلان کړی او په خبره یې اوس هغه وخت رارسېدلی، چې ټولې فلسطیني ډلې اختلافات یوې خواته کړي او په ګډه د نیواکګرو صهیونیستانو په وړاندې له خپلې مقدسې خاورې دفاع وکړي.